دعوت پوهنتون

# د حقوقو مبادي

(نوی نسخه له اصلاحات ا و اضافاتو سره)

دکتور شیرعلي ظریفي

۱۴۰۰ه.ش

## د کتاب ځانګړنې

د کتاب نوم: دحقوقو مبادي

تألیف: دکتور شیرعلي ظریفي

خپرونکي: بصیرت خپرندویه ټولنه او د دعوت څیړنې او نشراتو آمریت

د سمون چارې: عبیدالله پارسا

د چاپ نوبت: جدید/۱۴۰۰ لمریز

د چاپ شمېر: ۵۰۰ ټوکه

بیه: ۱۲۰ افغانۍ

برېښنا لیک: Basiratp۱۳۹۵@gmail.com

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-۹۰۰۳-۱-۸



د اړیکو شمیرې: ۰۷٤٤ ٣٦٣ ٤٩٠/۰۷۳۱۲۰۳۰٤۰/۰۷۸٦۸۵٦۸۰۷/۰۷۷۸٤۷۹۱۵۸

**پته: آسمایي واټ، جوی شیر، بصیرت خپرندویه ټولنه.**

**پنځمه ناحیه، قمبر څلور لاري، دعوت پوهنتون- څیړنې او نشراتو آمریت**

Www.dawat.edu.a

dawat.research۲۰۲۱@gmail.com



**دچاپ حق، نشر او کاپي خوندي دی.**

بسم الله الرحمن الرحیم

## د دعوت پوهنتون د تحقیق د کمیټې پیغام

الحمد لله و الصلاة و السلام علی رسول الله و علی آله و صحبه و من والاه وبعد:

دعوت پوهنتون ویاړي، چې د حقوقو د مبادي د مضمون یو ګټور درسی کتاب، خپلو ګرانو محصلینو او د حقوقو د علم مینه والو ته وړاندې کوي.

دغه کتاب چې د دعوت پوهنتون د غښتلي او تکړه استاد دکتور شیرعلي (ظریفي) د کلونو عملي تدریس له لاسته راوړنو څخه دی، مخکې هم څو ځلې چاپ شوی او نږدې له یوې لسیزې را پدېخوا په دعوت پوهنتون او نورو ملي پوهنتونو کې تدریسیږي، دا نسخه یې له ډېرو ګټورو محتوایي اضافاتو او شکلي جالبو تزییناتو سره د دعوت پوهنتون په مرسته چاپیږي، تر څو زموږ ګران هېوادوال یې له غني محتوا او له مختصرو له معنا ډکو عبارتونو څخه ګټه واخلي.

د کتاب د لیکوال لپاره د پوره ثواب او د علم د مینه والو لپاره له کتاب څخه د پوره ګټې اخیستلو په هیله.

د دعوت پوهنتون د تحقیق کمېټه

## **لیکلړ**


سرلیک ........................................ مخ

**سریزه** ........................................ ۱۱

د حقوقو د مبادي تعریف ........................................ ۱۳

د حقوقو د علم ګټې........................................ ۱۵

**لومړی څپرکی** ........................................ ۱۷

**قانون**........................................ ۱۷

**لومړی مبحث**........................................ **۱۷**

**د قانون او قانوني قاعدې پېژندنه**........................................ **۱۷**

د تعریف شرحه:........................................ ۱۸

لومړی صفت ـ قانوني قاعده په ټولنیز سلوک حکومت کوي .... ۱۸

دویم صفت ـ قانوني قاعده کُلی ده ........................................ ۲۰

دریم صفت ـ قانوني قاعده الزام راوړونکې ده ........................................ ۲۱

ځلورم صفت، قانوني قاعده د تطبیق ضمانت لري........................................ ۲۳

د قانوني قاعدو د اجبار وسائل:........................................ ۲۳

**دویم مبحث** ........................................ **۲۷**

**د قانوني قاعدو او نورو ټولنیزو کړو وړو د قاعدو ترمنځ توپیر** ........................................ **۲۷**

د دیني اوامرو او قانوني قاعدو ترمنځ اړیکې........................................ ۲۷

د دینونو ترمنځ توپیر ........................................ ۲۸

د الهي قوانینو غوره والی ........................................ ۳۰

د وضعي او الهي قوانینو تر منځ مقایسه ........................................ ۳۱

د الهي شریعت او وضعي قوانینو ترمنځ اړیکه........................................ ۳٤

په اسلامي شریعت کې د قانون جوړونې روا والی ........................................ ۳۵

د اسلامي شریعت د تقنین ګټې ........................................ ۳۵

سرليک ........................... مخ
په اسلامي شريعت کې د قطعي او اجتهادي احکامو اندازه..... ٣٦
د افغانستان د موجوده قوانينو شرعي حيثيت ............... ٣٧
د معلوماتو د پخولو برخې.............................. ٤٠
د قانوني او اخلاقي قاعدو تر منځ اړيکې.................. ٤٢
د قانوني او مجاملاتي قاعدو ترمنځ توپير ................... ٤٤
د معلوماتو د پخولو برخې.............................. ٤٥
**دريم مبحث ........................................ ٤٧**
**د قانون بنسټ او موخه................................ ٤٧**
د قانون بنسټ............................................ ٤٧
لومړی: د طبيعي (فطری) قانون مکتب (Naturalism) ........ ٥٠
د طبيعي قانون تاريخي شاليد.............................. ٥١
په نوی عصر کې طبيعي قانون .............................. ٥٥
د طبيعي قانون ځينې قواعد.................................. ٥٧
د اسلام له نظره طبيعي قانون ............................. ٥٨
دويم: واقعي (تحققي) مکتب (Positivism) ................... ٥٩
دريم، تاريخی مکتب (Culturalism) ......................... ٦٠
د قانون هدف (موخه)........................................ ٦٣
د فرد د اصالت مذهب (لېبراليزم)............................ ٦٤
د دغه مذهب پايلې ........................................ ٦٥
د فرد د اصالت پر مذهب نيوکه.............................. ٦٦
د ټولنې د اصالت مذهب: (سوسياليزم)....................... ٦٧
د دغه مذهب عملي پايلې..................................... ٦٨

سرليک ........................................................................ مخ
پر دغه مذهب نیوکه........................................................ ٦٨
د فرد او ټولنې د ګټو تر منځ د پخلا کوونکو مذهب ........................ ٦٩
د اسلام د سپېڅلي دين دريځ ................................................ ۷۰
**څلورم مبحث ........................................................................ ۷۲**
**د قوانينو وېش........................................................................ ۷۲**
عام او خاص قوانين ........................................................... ۷۲
داخلي او خارجي (ملي او نړيوال) قوانين ...................................... ۷٤
متني او شکلي قوانين ......................................................... ۷٤
لومړی ـ عمومي نړيوال قانون ................................................ ۷٦
د عمومي نړيوال قانون مصدرونه () ........................................... ۷۸
دويم ـ اساسي قانون .......................................................... ۷۹
دريم ـ اداري قانون ............................................................ ۸۰
څلورم ـ مالي قانون............................................................. ۸۱
د معلوماتو د پخولو برخې..................................................... ۸۲
پنځم ـ د جزا قانون ............................................................ ۸٤
شپږم ـ د کار قانون ........................................................... ۸۸
د معلوماتو د پخولو برخې..................................................... ۸۹
خاص قانون ......................................................................... ۹۱
لومړی ـ مدني قانون .......................................................... ۹۱
له مدني قانون څخه د تجارتي قانون بېلېدل.................................. ۹۵
د افغانستان د تجارتي قانون مهم موضوعات ................................. ۹٦
دريم ـ د مدني او تجارتي محاکماتو اصول: .................................. ۹۹

سرلیک ........................................................................ مخ

ځلورم – نړیوال خصوصي قانون ........................................ ۱۰۱

د نړیوال خاص قانون منابع .......................................... ۱۰۳

**پنځم مبحث ..................................................................... ۱۰۷**

**نړیوال معاصر حقوقي نظامونه ........................................... ۱۰۷**

د اسلام حقوقي نظام.......................................................... ۱۰۷

د "سول لا" حقوقي نظام (Civil law)................................. ۱۱۰

**شپږم مبحث .................................................................... ۱۱۳**

**د قانوني قاعدې مصدرونه ................................................ ۱۱۳**

لومړی ـ مدون قانون ........................................................ ۱۱۵

د افغانستان په قوانینو کې د اسلام مقام ........................ ۱۱۸

د عرف ارکان .................................................................... ۱۲۱

دویم ـ د عرف معنوي رکن: د عرف اجباري ګڼل ................ ۱۲۳

نوی پیدا شوی عادت ........................................................ ۱۲٤

د معلوماتو د پخولو برخې................................................ ۱۲۵

**اووم مبحث ..................................................................... ۱۲٦**

**د قانوني قاعدې تفسیر ..................................................... ۱۲٦**

د تفسیر ډولونه.................................................................. ۱۲۷

لومړی ـ قضایي تفسیر ........................................................ ۱۲۷

د قضایي تفسیر ځانګړتیاوې .............................................. ۱۲۸

دویم – خصوصي تفسیر ...................................................... ۱۲۹

دریم – قانوني تفسیر......................................................... ۱۲۹

د تفسیر مختلف مکتبونه .................................................... ۱۳۰

پخوانی مکتب (پر متونو د شرحې مکتب)........................... ۱۳۰

سرلیک ........................................................................ مخ

نوي مکتبونه ........................................................ ۱۳۱
د تفسیر قاعدې ........................................................ ۱۳۲
د قانوني متن په شتون کې ............................................ ۱۳۲
سالم متن ................................................................ ۱۳۲
عیب لرونکی متن ........................................................ ۱۳۳
د عیب لرونکي عبارت د تفسیر لارې..................................... ۱۳۵
د قیاس شرطونه ......................................................... ۱۴۳
**اتم مبحث ............................................................. ۱۴۸**
**د قانون د تطبیق سیمه (ساحه)............................................ ۱۴۸**
لومړی - د قانون د تطبیق مکاني سیمه.................................. ۱۴۸
د عام قانون په تطبیق کې استثنا ........................................ ۱۵۰
د خاص قانون په تطبیق کې استثنا ...................................... ۱۵۱
د قانون د تطبیق د ځای له پلوه د افغانستان د قوانینو حالت ۱۵۱
دویم - د قانون د زماني تطبیق ډگر..................................... ۱۵۳
د ستونزو تصور ......................................................... ۱۵٤
پخوانی (تقلیدي) نظریه................................................. ۱۵۵
نوي نظریات.............................................................. ۱۵٦
د قانون د بېرته نه گرځېدو له قاعدې استثناءات ..................... ۱۵۸
د افغانستان په قوانینو کې د قوانینو د پلي کېدو زماني ساحه ۱۵۹
د معلوماتو د پخولو برخې................................................ ۱٦۰
**دویم څپرکی** ........................................................... ۱٦۲
**حق** ................................................................... ۱٦۲
**لومړی مبحث.............................................................. ۱٦۲**

سرلیک ........................................................................ مخ
**د حق تعریف ............................................................ ۱٦۲**
**دویم مبحث ............................................................ ۱٦٥**
**د حق ډولونه ............................................................ ۱٦٥**
لومړی - غیر مالي حقوق ........................................ ۱٦٥
الف - د انسان د مادي وجود ساتنه ................................ ۱٦۷
ب - د انسان د ادبي وجود ساتنه.................................. ۱۷۰
دویم - مالي حقوق ............................................ ۱۷۰
د مالي حقوقو ډولونه.............................................. ۱۷۱
د شخصي حقوقو ډولونه............................................ ۱۷۱
د اصلي عیني حقوقو ډولونه ...................................... ۱۷۳
د ذهني حقوقو د شخصیتوب اړخ.................................. ۱۸٥
د ذهني حقوقو د مالیتوب اړخ..................................... ۱۸٥
**دریم مبحث ............................................................ ۱۸۸**
**د حق منابع (سرچینې) ................................................. ۱۸۸**
د حق لومړی منبع: قانوني تصرف................................... ۱۸۹
لومړی – عقد (تړون) ............................................... ۱۸۹
د عقد ارکان......................................................... ۱۹۰
د عقد شرطونه ..................................................... ۱۹٤
دویم – انفرادي (یوازینی) اراده ()................................. ۱۹۷
لومړی – مضر فعل ............................................... ۱۹۸
دویم – گټور فعل ................................................. ۱۹۸
پوښتنې............................................................ ۲۰۰

# سریزه

الحمدلله رب العالمین والصلاة والسلام علی سیدالعالمین محمد وعلی آله وأصحابه و من اهتدی بهدیه إلی یوم الدین.

**و بعد:**

انسان یو مکرم او معزز موجود دی، ځکه دنیا او ټول هغه څه چې په دنیا کې دي، د هغه د ګټې لپاره پیدا شوي دي، همدارنګه طبیعي او ټولنیز علوم، ژبې او داسې نور هغه وخت ارزښتناک بلل کیږي، چې د انسان د ګټې لپاره کار ترې واخیستل شي، نو په حقیقت کې دا ټول علوم د انسان خادم ګڼل کیږي.

د حقوقو د علم موضوع بشري کړنې او ویناوې دي، دغه علم د انسانانو تر منځ اړیکې تنظیموي، د بشر د کړنو، روا او ناروا بیانوي او د انسانانو په کړو وړو رامنځ ته شوي اغیزونه څرګندوي. (لکه: رشوت اخیستل ناروا دي، او چې چا واخیست، اغیز یې دا دی چې بندي کیږي) په بل عبارت د حقوقو علم پر بشري ټولنه له مسلطو اصولو څخه بحث کوي، له دې امله د حقوقو علم پر انسان حاکم بلل کیږي.

زموږ په ګران هېواد افغانستان کې حقوق له اسلامي شریعت څخه اخیستل شوي دي، ځکه د افغانستان ټول قوانین د اساسي قانون د دریمې مادې[1] پر بنسټ له اسلامي شریعت څخه پیروي کوي، نو له دې امله د دغه علم زده کړه په داسې حال کې چې په ډېرو موضوعاتو کې یې د اسلامي شریعت مواقف څرګند شوي، په حقیقت کې د ډېر خیر زده کول دي.

---

[1] ـ د اساسي قانون د دریمې مادې متن داسې دی: په افغانستان کې هېڅ قانون نه شي کولای چې د اسلام د مقدس دین د معتقداتو او احکامو مخالف وي.

څرنګه چې زه له لسو کلونو څخه له ډېر وخت راپدې خوا د نورو بوختیاوو تر څنګ د حقوقو د مبادي د مضمون تدریس پر غاړه لرم، تل مې دا اړتیا احساسوله، تر څو زموږ په ملي ژبو داسې یو لنډ او جامع کتاب، چې د تدریسي کتابونو له وړتیا څخه برخمن وي، تالیف شي. دا لیکنه چې ستاسو په لاس کې ده، لومړی د ناچاپ چپتر په شکل ما او همدارنګه نورو استادانو په مختلفو پوهنتونونو کې ډېر کلونه تدریس کړې او تل مو په هغې کې نوي اضافات او تنظیمات وارد کړي دي، چې په پایله کې یو متواضع کتاب ورڅخه جوړ شو، او په پښتو او دري ژبه، ډېر ځله د بیلا بیلو ناشرانو له لورې چاپ شو.

د دې لیکنې تر ټولو غوره ځانګړتیا ـ چې د حقوقو په مبادي کې له موجودو لیکنو څخه امتیاز ورکوي – دا ده، چې محصل د افغانستان له قانوني نظام سره تر ډېره بریده آشنا کوي، ځکه ما ډېر مثالونه او توضیحات د افغانستان له قانون څخه ورکړي دي.

له الله تعالی څخه هیله لرم، چې ګران محصلین په لږ وخت کې له دې لیکنې څخه ډېره علمي ګټه تر لاسه کړي.

## د حقوقو د مبادي تعریف

د حقوقو مبادي له دوه لورو تعریفیږي لومړی د اضافي مرکب او دویم د ځانګړي علم د نوم په توګه.

**لومړی** ـ له دې اړخه چې اضافي مرکب دی: د حقوقو مبادي له دوو کلمو څخه جوړ شوی لفظ دی: د حقوق کلمه مضاف الیه او مبادي ورته مضاف ده، د لغت له مخې (مبادي) د مَبْدَأ جمعه او اسم ظرف دی، له بَدَأ څخه اخیستل شوی چې د پیل کولو په معنا راځي او مبدأ د پیل کولو ځای ته ویل کېږي.

حقوق د حق جمعه ده او حق په ډېرو معناوو راغلی، چې له هغې جملې:

۱. له واقعیت سره مطابقت، لکه چې ویل کېږي: خبره یې حقه ده، یعنې رښتیا ده او له واقعیت سره مطابقت لري.

۲. د برخې په معنا، لکه چې ویل کېږي: دا زما حق (برخه) ده.

۳. د یو چا لپاره د منفعت د ثبوت په معنا، لکه چې ویل کېږي: پلار پر زوی یا مالک پر خپل مال حق لري.

د حقوق پوهانو له نظره حقوق په دوو معناوو دلالت کوي:

۱. د قانوني قاعدو مجموعه، چې په دې معنا سره حقوق او قانون یو له بل سره مترادف دي، لکه: مدني حقوق، تجارتي حقوق، د جزا حقوق او داسې نور.

۲. په ګټه او منفعت واکمن ګرځېدل، چې قانون یې ساتنه او ملاتړ کوي لکه: د ژوند کولو حق، د ملکیت حق، د انتقال حق د یو ځای څخه بل ځای ته تللو حق او داسې نور.

کله چې د (حقوقو) کلمه د جمعې په صیغې سره استعمال شي، ډېر ځله هدف ورڅخه قانون وي او کله چې (حق) د مفرد په صیغه استعمال شي، نو هدف ورڅخه د یوو یا څو تنو لپاره ثابت منفعت وي.